ماهنامه حراء میاشتنی Hera Monthly
ماهنامهٔ تربیتی، علمی و دینی
چهار شنبه د ۱۳۹۹ د حوت٦مه، د رجب ۱۳مه، د ۲۰۲۱م د فبروري۲۴مه دوه یم کال ۴مه گڼه

HAYAT FOUNDATION
Registered Charity in the UK
Reg No: 1145407

## مراسم عروسی وسستی در نماز

یکـی از عیـوب بسـیاری از جشـنها و مراسـم هـا کـه در بسـیاری از کشـورهای اسـلامی بر پـا مـی شـوند، ایـن اسـت کـه؛ بـدون توجـه بـه حقـوق خداونـد و بـدون توجـه بـه ضمیـر و قلـب مؤمنانـی کـه نسـبت بـه ادای نمـاز در اوقـات خـود اصرار و اهتمـام دارنـد، اوقـات نمـاز، بـه ویـژه نمـاز مغرب«ویـا گاهـا دیگـر نمـاز هـا همچـون نمـاز صبـح و..» را ، فـدای آن جشـن و مراسـم مـی کننـد. (دکتـور یوسـف)



# نور ملتونه څرنګه جوړ شول او مونږ ولې نه جوړېږو؟

صفحه ۲



نصیحت های طلایی
مخ ۲



په اسلام کې د ښځو ارزښت او لوړ مقام
صفحه ۴



ارزش اجتماعی اخوت ایمانی
صفحه ۵



Should I Confess?
page 7



Kindness to Parents
page 6

## سرمقاله

### یو اسلام، یو قرآن او یو وطن آخر اختلاف ولې؟

پـه دې کـې هیـڅ شـک نشـته چـې الله تعالـی بشر له مختلفـو طبیعتونـو سره خلق کړیـدی، او هـر تـن ته یې مسـتقل شـخصیت، ځانګړی فکـر او طبیعت ور بښـلی، او دا اختـلاف یـې د انسـانانو پـه مـادي او معنـوي شـخصیت کـې ظاهـر کـړی او موجـود دی .

نـو څنګـه چـې انسـان په ظاهـري شـکل او څېـرو، پـه آواز او ګفتـار او د ګتو په نښـو کـې ځانتـه والـي موجـود دی، په همـدې ډول په طرز تفکر، ذوق او هیلو، سـلیقو او د شـیانو او اشـخاصو پـه پېژندلـو کې ځانګړی لید لـري, همدا راز هر انسـان لـه حوادثو څخـه ځانګـړی تفسـیر لـري او د همغـو پـه رڼـا کـې خپـل موقـف اعلانـوي او نظر وړانـدې کـوي, او اسـلام پـه بـشري تاریـخ کـې لومړنـی دیـن ؤ چـې انسـان یې فکر تـه را وبالـه او د نظرونـو اختـلاف تـه یـې اهمیـت ورکـړ چـې له صدر اسـلام څخـه دا نظـري اختلافونـه د مختلفوفـو مذاهبـو د منځته د راتګ سـبب شـول او هیڅـا هم د نظـر پـر اختـلاف بـل لـوری تکفیر او تفسـیق نه کـړ او نـه یـې ورسره دښـمني وکړه.

د الهـي سـنت دي او علـماء پـر دې اتفـاق لـري چـې هیڅکلـه بـه هم ټول انسـانان پـه ټولـو مسـائلو کـې تـر یـو چـتر لانـدې را ټـول نـه شي, بلکـې علمـي اختلافونـه پـه ټولنـو کـې د نوښـت او پرمختـګ سـبب ګرځـي او خلـک پـه علمـي مسـائلو کـې تحقیـق او څېړنـې تـه هڅوي.

نـو د همـدې لپـاره هغـه خلـک چـې غـواړي، نـور یـا ټول مسـلمانان لـه ځانـه سره د عباداتـو او معاملاتـو پـه فرعـي احکامـو کـې د یـوې واحـدې نظریـې لانـدې راټـول کـړي، بایـد پـه دې پـوه شي چـې دا کار نـا شـونی دی, بلکـې د دوی هڅـې او هلـې ځلـې د امـت او خلکـو ترمنځ د بې اتفاقي, اختلاف او انارشـیزم سـبب ګرځـي او پایله د یوبـل رټـل او وژل او مطلقـه نفـي وي.

زمونـږ د ټولنـې یـوه غټـه سـتونځه همـدا ده چـې لـه کلونو کلونه تربنـه کړېـږو او هغه دا چـې پـه اختـلافي مسـائلو کـې هیڅکلـه د بـل نظـر نـه شـو اورېدلی منـل خو یې پـر ځـای پرېـږده چـې همدا تنګ نظـري ـ پر نـورو عوملـو سربېـره ـ د پرونیـو او روانو جګـړو یـو سـتر لامـل ګنـلای شـو, سره لـه دې چـې زمونـږ پـه هېـواد کـې د یووالـی بې شـمېره ټکـي شـته دي, او اختـلافي نقطـې مـو د ګوتـو پـه شـمار دي, خـو سره لـه دې هـم مونـږ پـر یـو ټغـر نـه راټولېـږو, بلکـې ورځ تر بلې خپـل ولـس د ژبـې, قوم, سـمت, مذهـب, ډلـې او ټپلـې پـه نامـه سره وېشـو او تـر دې چـې هـره ډلـه لـه خپلې ډلـې پرتـه نـورې ډلـې ناسـمې, بـې لارې او تـر دې چـې کافـرې بولـي او د وژلـو او قتـل تـر سرحـده ورسره دښـمني کـوي, پـه داسـې حـال کې چـې قـرآن کریـم مونږ ته امـر کـوي چـې اهـل کتـاب هـم مشـترک ټکـې تـه راوبـلې او خپـل تعامـل ورسره پـه همـدې مشـترک ټکـې پیل کـړئ, اللـه تعالـی فرمایـې:

ژبـاړه: او ورتـه ووایـه چـې اې دکتـاب څښـتنانو راځـې هغـې خـبرې چـې زمونـږ او سـتاسـې ترمنـځ (مشـترکه) ده چـې لـه اللـه پرتـه بـه د بـل چـا عبـادت نـه کـوو او لـه هغـه سره بـه بـل شریـک نـه نیسـو. [آل عمـران/٦٤]

نـو زمونـږ پـه هېـواد کـې چـې د اوسـنې کړکیـچ ټولـې خـواوې اللـه منـې, قـرآن او رسـول اللـه بانـدې یـې ایمـان راوړی, یـوې قبلـې تـه لمونځ کـوي, او پـه لسـګونو نور مشـترکات, خـو بیـا هـم لـه یـو بـل سره دښـمني کـوي او دیـو بـل دوژلـو فتـواوې ورکـوي او تـر دې چـې د خـبرو لپـاره هـم لـه یـو بل سره نـه کښـې او د خپلو مسـلمانو افغانانـو ورڼـو د وژنـې لپـاره فتـوواې ورکـوي, چـې دا کړنـې د اسـلام له غوښـتنو سره په هـر اړخیـز ډول پـه ټکـر کـې دي.

سوله چـې د اللـه تعالـی امـر او د ټولـو افغانانـو غوښـتنه ده او په اسـلام کـې یو اصل دی هغـه شـاته اچـول کېـږي او جګـړه چـې په خپل ذات کې ښـه شـی نـه ده, بلکې (حسـن لغیـره) ده پـر هغـې ټینـګار کېـږي, او د پردیـو د ګټـو لپـاره د خپـل ورور وینې تویـوي او کلـي او ګـودرې یـې ورانوي.

پـه قـرآن کـې روښـانه او ښـکاره فتحـه او بـری (فتح مبـین) د حدیبې سـولې ته ویل شـوې او علـت یـې هـم دا ښـودل شـوی چـې پـه دې سـولې سره د وینـې لـه تویدنې مخنیـوی وشـو پـه داسـې حـال کـې چـې د سـولې بـل لـوری مشرکـین وو, نـو پـه داسـې حـال کـې چـې د جګـړې دواړه لـوري مسـلمان وي بیـا خـو د سـولې اهمیـت لا زیـات او اړیـن دی.

نـو راځـئ نـور د الهـي حکـم لـه مخـې د سـولې لپـاره لاره هـواره او جګـړې تـه د پای ټکـی کېـږدو او له نظریاتي, سـلیقوي, حزبي او نـورو وړو اختلافونـو سره سره د وروری پـه فضـاء کـې د یـو بـل وجـود وزغمـو او هېـواد او هېـوادوال لـه روان ناوریـن څخـه وژغـورو ، زمونـږ د هېـواد مـادي او معنـوي شـتمنې لـه جدي ګـواښ سره مخ دي.

# نور ملتونه څرنګه جوړ شول او مونږ ولې نه جوړیږو؟

عبدالحی قانت

د تاریخ پاڼې وګورې یو وخت د نړۍ په درې برخو مسلمان ملت حاکم وو خو نن یو دولت هم داسې نه تر سترګو کیږي چې په سمه مانا د اسلامي حکومت اطلاق پرې وشي. بل اړخ ته د مسلمانانو د حکم په وخت کې د اروپایانو تر ډیره همدا حال وو کوم چې نن زمونږ دی. همدا وجه ده چې هغوی خپل هغه وخت د Dark ages په نوم یادوي. په نني نړۍ کې مونږ ګورو یو ملت ښېرازه، جوړ او ورځ په ورځ پرمختګ کوي خو تر څنګ بل ملت یې ورځ په ورځ خواریږي او لا زیاتې غریبۍ او قفر په لور رهي دی. څه وجوهات دي چې دا ملتونه د هغه تېرو په شان پرمختګ نه کوي؟

**۱. تعلیم:**

که نړۍ د یو موټر په مثال واخلو، تعلیم هغه څه دي چې د تمدن او پرمختګ لپاره د نړۍ د چلونکي حیثیت لري. بې له چلونکي (تعلیم او تحصیل) څخه پرمختګ داسې یو خیال دی چې هیڅ مثبته نتیجه ترې نه ترلاسه کیږي.

**۲. مبارزه:**

د اوسنۍ نړۍ ټول پرمختللي حکومتونه وګورئ تر شا به یې تاسې د هغې مبارزې او سرښندنې نښانې وګورئ کومه چې د همدې پرمختګ لپاره ددې ملت د وګړو خصوصا ځوانانو تقدیم کړې. بې له دې چې مبارزه وشي هیڅ مثبت تغیر ممکن نه دی.

که د اروپا په تاریخ لنډ نظر واچوو دوه شیان په نظر درځي: یو ددوی علمي لاسته راوني او بل د پرمختګ په مخ کې د چیلنجونو پر ضد ددوی نه ختمېدونکي مبارزه. تاسي وګورئ ددوی مبارزه له رنسانسه پیل بیا پر scientific او industrial revolution منتج شوه او د نړۍ د وخت د تمدن قیادت یې په لاس کې واخست. د رومي کلیسا له شکسته ورسته چې اروپا کې فیوډالي نظام پیل شو، هغه غریب او بچاره زمینداران او دهقانان وو چې د خپلو لاړډانو پر خلاف یې مبارزه پیل کړه او د اولسمې پیړۍ په اواخرو کې یې د خپلې مبارزې په نتیجه کې خپل حقوق تر لاسه کړل او ټل یې د اروپا په تاریخ کې پر کارکونکې طبقې ظلم لپاره د پای ټکی کیښود.

جاپان وګورئ له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په داسې حال کې وو چې ډېر غریب هیوادونه له دوی په ښه حال کې وو خو ددوی د ملګرو په مرسته، د مخلص قیادت او ددوی د نه ستړې کیدونکي ځوان قشر مبارزه وه چې دوی یې د پیړۍ په آخر کې د نړۍ د لویو اقتصادونو له برخې وګرځول.

د جرمني کیسه هم همداسې ده. د هیټلر او دوهمې نړیوالې جګړې وروسته دا هیواد لوټه لوټه شوی وو. د Nuremburg په شان ښارونو کې یو کور روغ نه وو پاتې، اقتصاد یې په داسې حالت کې وو چې کلونه وروسته یې هم ورته اروپایانو The sick man of Europe وایه. خو ددوی د قیادت ښې پالیسۍ ملي احساس او د هیوادوالو بې مثاله کوښښونه وو چې جرمني یې په ۲۰۰۵ کې د نړۍ د قوي اقتصادونو په کتار کې ودراوه.

د ویتنام تاریخ چې سرې لولې لکه هو بهو چې د افغانستان تاریخ لولې. په دې وطن همیش ددوی د ستراتیژیک موقعیت له امله له فرانسویانو او جاپانیانو نیولې تر چینیانو او امریکایانو پورې یرغلونه کړي خو په نتیجه کې خدای دوی د Ho Chi Minh په شان په داسې یو ملي رهبر ونازول چې هیواد یې د خپلو وګړو د مټو په زور اول ازاد کړ او بیا یې د جګړې له مرکز څخه پر یو اقتصادي څلورلارې بدل کړ. دا به هیڅکله هم ممکنه نه وه چې ویتنام دی یو آزاد، هوسا او د پرمختګ په لور رهي هیواد شي که چیرته ویتنام د هو چې من په شان مخلص قیادت او بیا د هغه تر څنګ ولاړ خپل هیواد ته ژمن ځوان قشر نه وای.

په اوسني تاریخ کې بیا له ټولو لوی مثال د جنوبي او شمالي کوریا دی چې ۷۰ کاله مخکې دواړه یو هیواد وو خو دا چې پر یو هیواد داسې نظام مسلط دی چې هغه خپله د پر مختګ په لار کې خنډ دی، د نړۍ یو له غریبو هیوادونو څخه دی او بل هغه چې د وګړو مسلسل کوښښ، د مشرانو ملي احساس، سیاسي پوهه او د واقعي ملګرو مرستو یې د نړۍ د قوي اقتصادونو په صف کې ځای لري او لا هم د نور پرمختګ په لور رهي دی.

**پس چه باید کرد؟**

د افغان ځوان د خلاصون لپاره یوائېنې لار هماغه ده کومه چې دې نورو هیوادونو لپاره وه. مونږ ته آینده لپاره یو قوي، مخلص، افغان شموله او وطنپال قیادت پکار دی او ددې قیادت تر څنګ داسې یو منظم ټولي ته اړتیا ده د همدې مخلص قیادت په شان هم هیواد ته، هم دیني او ملي ارزښتونو ته وفادار او ژمن وي او هم د اوسنی نړۍ له سیاسته په واقعي مانا درک ولري. تر څو په ډېر حکمت په نړیوالې ټولنه کې خپل هیواد لپاره واقعي ځای پیدا کړي.

ځوان نسل باید د خپلې آیندې او د روروانو قشرونو د آیندې لپاره لاس په کار شي او د یو داسې واقعي تغیر وسیله وګرځي چې د افغان ملت آینده نسلونه پکې د عزت او آرام ژوند ولري.

## نصیحت های طلایی

١- زیاد سفرکن. سفر؛ آموزگار و آراینده ای نیکو است. لذا کسانی که به سیر و سیاحت نمی پردازند، دارای عقل و فکر و اندیشه هایی راکد، خشک و متحجر اند.

٢- با رفتن به سفر و گردش، هوشمند شو؛ زیرا سفر میزان درک و فهمت را افزایش می دهد.

٣- بعد از فراغت تحصیلی یک سال را بدون انجام کار و در تعطیلی سپری کن تا در این مدت، برای آینده ات برنامه ریزی کرده و مسیر زندگی خویش را با تامل و از روی دقت، انتخاب کنی.

٤- به مسافرت بپرداز تا آموزه های فراوانی را آموخته و پدیده های ارزنده ای را فراچنگ آوری. و هدف عمده ات از سفر تنها به سیاحت و گردش منحصر نباشد.

٥- جهت فراگیری باورها و اندیشه های دانشمندان و بزرگمردان، رهسپار دیار شان شو.

٦- برای حصول معرفت و شناخت شهر نشینان و انتخاب یارِ یاوری از هر شهر، به مسافرت اقدام، و اقدام خویش را جامه ی عمل بپوشان.

٧- سفر کن تا با ادیان و علوم و مذاهب، شناخت حاصل نمایی.

**بخوان**

١- همه روزه به کتابخوانی بپرداز و مطالعه را با «کتاب» داشته باش نه از سافت و نت.

٢- لحظه های فراغتت را با «خواندن» سپری کن، و مطالعه را برای خویش شغل و عشق و دلبستگی بگردان و نه سرگرمی.

٣- با برنامه و به شکل منظم به مطالعه و کتابخوانی مبادرت ورزیده و از خواندنِ مطالبی که وقت را ضایع می گرداند، دوری کن. حد اقل مقدار مطالعه برای رشد بعد فرهنگی شخص، ٤٠٠ صفحه در ماه است. اگر خواسته باشی دانشمند و متفکر شوی، حد اقل باید در هر ماه هفت کتاب بخوانی. از این مقدار، ٪ ٥٠ در عرصه ی تخصص ات و ٪ ٥٠ در مجالات علمی و تخصص های دیگر، بخوان. اگر بتوانی ٪ ٥٠ در زمینه ی تخصص خویش مطالعه بنمایی، از صاحبان علم و دانش گردیده و از زمره ی دانشمندان به شماری خواهی رفت؛ اما مطالعه در باب مسایل غیر تخصصی ات، تو را حکمت خواهد آموخت.

٤- زبان انگلیسی را بیاموز.

٥- آیین و روشِ تندخوانی را فراگیر. و عادتِ کندخوانی خویش را با ممارست و تمرین، به روش تندخوانی تغییر بده.

٦- خاطرات شخصی دانشمندان و شخصیت ها و بزرگان را بخوان. هیچ بهره ای بهتر از خریدنِ یک کتاب نیست؛ زیرا با خرید یک کتاب، در واقع تجربه های انسانی بزرگ و موفق را از آنِ خویش می نمایی.

٧- در مورد کسانی که با آنها اخلاف نظر داری، مطالعه کن.

# په اسلام کې د ښځو ارزښت او لوړ مقام

ژباړه: محمد خالد ملکزی

ښځه په اسلام کې لوړ مقام لري. اسلام هېڅکله هم مېرمنې ته د دې په خاطر چې هغه مېرمن ده؛ په کمه سترګه ندي کتلي. د مېرمنې اُنوثت (ښځه توب) هېڅکله هم په اسلام کې د هغې د توهين؛ او سپکاوي لامل نشي ګرځېدلی؛ بلکې اسلام مېرمنو ته خورا لوړ مقام ورکړی دی. د مثال په ډول: قرآن کريم مونږ د مور په مخکې حتی د اُف له ويلو څخه هم منع کړي يو او دا يې کبيره ګناه شمېرلې ده؛ او مونږ ته يې له مور او پلار دواړو سره د ښه تعامل او سالم چلند امر کړی دی.

خو ځينی خلک ډېر مُتشدِدين دي؛ يعني تُندخويه او د غليظ طبيعت خاوندان دي؛ دوی له هر چا سره ناوړه چلند کوي؛ دوی مېرمنو ته په حقارت او سپکه سترګه ګوري؛ او بيا فکر کوي چې مېرمن، ښځه، مور او خور په اسلام کې هېڅ ارزښت نلري؛ او خپل دې ناقص او ناسم تصور ته د دين او د اسلام نوم هم ورکوي.

پوهانو څومره ښه ويلي دي چې: ((نورو ته په درنه سترګه کتل؛ په حقيقت کې خپل ځان ته په درنه سترګه کتل دي)). دا پورتنی خبره په حقيقت کې همدا معنا لري چې: نورو ته په سپکه سترګه کتل؛ په حقيقت کې خپل ځان ته په سپکه سترګه کتل دي.

هغو خلکو چې اسلام يې په کره معنا نه وي پېژندلی؛ نه يوازې مېرمنو ته؛ بلکې نارينه وو او ټول بشريت ته په سپکه سترګه ګوري؛ او له بشردوستی (Humanism) سره کرکه لري؛ خو لبيب (عاقل او هوښيار) انسان بيا په دې خبره باندې ښه پوهېږي چې: زه له چا سره بايد څه ډول چلند وکړم؛ او څوک څومره په ما باندې حق لري.

له بده مرغه زمونږ په ټولنه کې ځينې خلک د دين په نامه له خپل نورو سره ناوړه چلند او ظلم کوي؛ حال دا چې: زمونږ د اسلام حقيقي څېره بيا داسې نه ده؛ بلکې په اسلام کې ډېر داسې حقايق شتون لري چې هغه مونږ ته د مور او پلار د احترام ، د ګاونډيانو سره د درناوي...له کوچنيانو سره د شفقت او خواخوږی او د مېرمنو د تکريم ښودنه کوي؛ او همدا دين مونږ اخلاقو؛ يو بل د احترام؛ انسانيت او له ښو انسانانو سره مينې او عدالت کولو ته رابلي.

که چېرته خپلې بېرته موضوع ته راوګرځو؛ نو ويلی شو چې: ښځه بايد په خپل دين او خپل پيغمبر باندې فخر وکړي؛ او بايد خوشحاله شي چې اسلام دوی ته د علم د تر لاسه کولو او د ښه ژوند کولو زمينه مساعده کړې ده؛ نو له همدې کبله مسلمان مېرمن هېڅکله هم بايد داسې سپک او پربوتي کارونه تر سره نه کړي چې د هغې عِفت، کرامت او عزت ته پرې تاوران رسيږي؛ او د کورنۍ دروند نوم يې پرې سپک او د قوم لوړه شمله يې پرې بدنامېږي.

اسلام مېرمنو ته ډېر حقوق ورکړي دی؛ لکه: په کورنۍ او ټولنيزه برخه کې د خپل نظر د څرګندولو، په علمي سکتور کې د نارينه وو په څېر د علم او پوهې د ترلاسه کولو؛ او په اقتصادي برخه کې يې دوی ته د تجارت د ترسره کولو؛ د کار د کولو؛ او د خپل خاوند څخه د مَهر د اخستلو او داسې نور ډېر بې شمېره حقوق ورکړي دي.

که چېرې د اسلام د زرين تاريخ پاڼو ته وروګرځو؛ نو څرګنده به شي چې: په مکه کې



د ګوتو په شمېر خلکو به تجارت تر سره کاوه؛ يو له دغو مشهورو تاجرانو څخه حضرت بي بي خديجې ـ رضي الله عنها ـ وه چې تل به يې قافلو او تجارتي کاروانونو د مکې او مدينې تر منځ سفرونه کول. هغې به نارينه وو ته خپل مالونه ورکول تر څو تجارت پرې وکړي. (۲).

په اسلام کې د مېرمنو د ارزښت په اړه بايد وواېو چې: له رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ څخه وروسته لومړنی شخص چې الله تعالى ته يې سجده کړې ده؛ هغه مېرمن وه؛ يعني بي بي خديجه ـ رضي الله عنها ـ وه. حضرت بي بي خديجه ـ رضي الله تعالى عنها ـ د رسول اکرم ـ صلى الله عليه وسلم ـ لومړنی بي بي؛ او د هغه د اولادونو مور وه، چې په مېرمنو کې تر ټولو زياته ورته ګرانه هم وه؛ او په مېرمنو کې يې تر ټولو غوره مېرمن هم ګڼل کېدله.

که چېرې د نبي اکرم ـ صلى الله عليه وسلم ـ له نظره، د مېرمنو حقوقو ته اشاره وکړو؛ نو جوته به شي چې: هغه ــ صلى الله عليه وسلم ــ به مېرمنو ته په خورا درنه سترګه کتل.

کله چې د نبي اکرم ـ صلى الله عليه وسلم ـ لومړنۍ بي بي (حضرت خديجه ـ رضي الله عنها ـ) وفات شوله؛ نو د هغې په مرګ باندې ډېر خفه شو؛ تر دې پورې چې کله به يې د حضرت بي بي خديجې ـ رضي الله عنها ـ د خور (حضرت هاله) غږ اورېده؛ نو د هغې د غږ په اورېدلو سره به ورته حضرت خديجه ور په يادېدله؛ نو په دې توګه خفه زړه به يې پرې ډېر خوښحالېده.

حضرت بي بي خديجه ـ رضي الله عنها ــ چې کله ژوندۍ وه؛ نو هغې به هم ورسره زياته مينه پالله؛ تر دې پورې چې هغې خپل يو غلام (زيد بن حارثه) پيغمبر ـ صلى الله عليه وسلم ـ ته د هغه د زياتې مينې په خاطر ډالۍ کړ.

لومړنی شخص چې په رسول اکرم ـ صلى الله عليه وسلم ـ باندې يې ايمان راوړی دی؛ هغه مېرمن وه؛ يعني بي بي خديجه ــ رضي الله عنها ــ وه. دا په دې معنا چې: لومړنی شخص چې د رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ــ مرسته او ملاتړ يې کړی دی، هغه مېرمن وه. کله چې د لومړي ځل لپاره په رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ــ باندې وحيې رانازله شوله؛ نو هغه ـ صلى الله عليه وسلم ــ د وېرې احساس کاوه؛ خو لومړنی انسان همدا حضرت بي بي خديجه ـ رضي الله عنها ـ وه چې: رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ــ ته يې زېرې ورکړ؛ او د هغه ـ صلى الله عليه وسلم ــ معنويات او روحيات يې ورته لوړ کړل؛ او ورته يې وويل: ((كلَّا ، و اللّه لا يخزيكَ اللهُ أبداً ...)).

ژباړه: په الله تعالى قسم چې: هغه به تا هېڅکله هم رسوا نه کړي.

په اسلام کې لومړنۍ شهيده مېرمن وه. دا شيهده مېرمن د حضرت عُمير ـ رضي الله عنه ــ مور؛ د حضرت ياسر ــ رضي الله عنه ــ مېرمن، سُميه بنت خياط نومېدله.

عموماً خلک داسې تصور کوي چې: په اسلام کې به لومړی شهيد له نارينه وو څخه وي؛ مګر د اسلام لومړنۍ شهيده يوه مېرمن وه؛ دا مېرمن حضرت سُميه بنت خياط ــ رضي الله عنها ـ نومېدله. دا ولې؟ دا ځکه چې عموماً مېرمنې تل قرباني ورکوي؛ او هر راز سرښندنې ته آماده وي؛ نو لنډه دا چې: کله چې مونږ د اسلام تاريخ مطالعه کوو؛ نو مونږ ته دا حقيقت راڅرګندېږي چې: د اسلام د کاميابولو لپاره مېرمنو مخکې له نارينه وو څخه قرباني ورکړې ده.پای



# سیرت اخلاقی رسول گرامی ﷺ

بخش سیزدهم

## مهمان نوازی و هدیه دادن پیامبر گرامی ﷺ

ابن عباس (رض) می‌فرماید: «رسول الله ﷺ سخاوت مندترین انسان بود و در ماه رمضان هنگامیکه با جبریل ملاقات می کرد سخاوت مندتر از سایر اوقات می‌شد و جبریل ÷ در هر شب از ماه رمضان با رسول الله ﷺملاقات می کرد و قرآن را ـ تا جاییکه نازل شده بود ـ با ایشان تکرار می‌نمود و رسول الله ﷺهنگام ملاقات با جبریل (ع) نسبت به بذل و بخشش خیرات از تندباد وزنده هم سریع‌تر می‌شد».

پیامبر گرامی ﷺ بر اساس اعتماد به الله تعالی چنان بذل و عطا می‌کرد که از فقر و بیچارگی هیچ هراسی نداشت. ابوذر س می‌گوید: با رسول الله ﷺ بودم. پس هنگامی که چشم رسول الله ﷺ به (کوه) احد افتاد، فرمود: «اگر این کوه، برای من تبدیل به طلا شود، دوست ندارم یک دینار از آن، بیش از سه روز، در خانهٔ من بماند. مگر دیناری که آن را برای پرداخت وام، نگه داشته باشم».

آنجناب ﷺ این بذل و سخاوت را عملا در حیات شان تطبیق نمودند تا نمونه و الگو برای امت باشد، چنانکه از انس س روایت است که گفت:. «رسول الله از چیزی بخاطر اسلام سؤال نشده‌اند، مگر اینکه داده‌اند. مردی نزدش می‌آمد و ایشان رمهٔ گوسفندی را که در میان دو کوه بود، به وی می‌داد، و او به قوم خود بازگشته می‌گفت: ای قوم مسلمان شوید. زیرا محمدﷺ بخشش کسی را می‌کند که از فقر نمی‌ترسد» [صحیح مسلم (۲۳۱۲)]. از جبیر بن مطعم روایت است که در هنگام بازگشت پیامبر ج از حنین با وی می‌رفت، بادیه نشینان با سؤالاتشان او را متوقف ساختند تا ناگزیر ایشان ﷺ را وادار نمودند که بدرخت سمره پناه برده و ردایش را ربودند. پیامبرﷺبلند شده و فرمود: ردای مرا بدهید، اگر به عدد این درختان خاردار نعمت نزدم می‌بود، آنرا میان شما تقسیم می‌کردم، و مرا نه بخیل و نه بسیار دروغ پرداز و نه بزدل می‌یافتید». [صحیح بخاری (۲۸۲۱)]

سهل س می‌گوید: زنی، چادری را که کناره آن، بافتنی داشت، به پیامبر ﷺ هدیه داد رسول الله ﷺ که به آن نیاز داشت، آنرا پذیرفت و بعنوان ازار، از آن استفاده کرد. یکی از اصحاب، آنرا پسندید و گفت: چقدر زیبا است! آنرا به من بدهید. مردم، به او گفتند: کار خوبی نکردی. زیرا رسول الله ﷺ به آن نیاز داشت و آن را پوشیده بود. با وجود این، تو آن را طلب کردی. و می‌دانی که هر گاه از رسول الله ﷺ چیزی خواسته شود، دریغ نخواهد کرد. آن شخص گفت: به الله سوگند، من آن را برای پوشیدن درخواست نکردم. بلکه می‌خواهم آن را کفن خود نمایم. سهل می‌گوید: سرانجام، همان چادر، کفن آن شخص گردید. [صحیح بخاری (۶۰۳۶)]

آری! آنجناب ﷺ بخشش و عطای بینظر داشت، چه این بذل به فقیر و محتاج می‌بود، و چه بخاطر کسب دل‌های مردم بمنظور گرویدن شان به اسلام، و چه برای اینکه سرمشقی برای امت باشد؛ با این حال، گاهی دو ماه می گذشت ولی در خانه‌های رسول الله ﷺ آتشی برای پخت وپز افروخته نمی‌شد و فقط بر خرما و آب قناعت می کردند.

# دا لاري چارې مو له لوړي پرته ډنګروی شي

دا خبره به مو اوریدلې وي چې وایي: پلانی هم غوړي غاړي شي او هم شهید شي.

ځینې خلک دا خبره هغو کسانو ته کوي، چې د خوراک زیات شوقیان دي، خو غوړي ډنګر هم شي.

آیا ریښتیا هم دا دواړه شوقه په یو وخت د غاړي کیدو او شهید کیدو تمې ته ورته دي؟

زموږ ځواب درته نه دی؛ دلته داسې لاري چارې درښیوو چې په مرسته یې د زیات خوراک باوجود هم ډنګریدای شي.

څه وکړو؟

د دې لپاره چې هم خوراک وکړئ او هم ډنګر شئ، هرڅه نه په لومړي ګام کې دا ضرور دي چې په خوراکي رژیم کې مو تدریجي بدلونونه راولي.

داسې نه کیږي، چې په یوه ورځ ټول خوراک څښاک بس کړئ او وایئ، چې خامخا په نه خوراک ځان ډنګروم.

په دې برخه کې به غوره وي، چې د ځینو خوراکي توکیو پرځای نور توکي وکاروئ.

مثلاً:

ـ د عادي شیدو پر ځای غوره ده، چې د بادامو شیدې، د وریجو شیدې، د سویا او نارګیل نا خواږه شوي شیدې وڅښئ.

– د سرو کرو غوښو پرځای بهتره ده، چې لوبیا او نور حبوبات وکاروئ.

ـ د پنیرو پر ځای به شه وي، چې د زیتونو غوړي او نور سبزیجات وکاروئ.



– د چرګانو د هګیو پر ځای هم کیدای شي شات یا بل داسې څه وکاروئ.

دا خواږه مه خورئ!

داسې خواږه هم ډېر دي، چې پر استعمال یې ستاسې د زیات ورزش نتیجه درخرابوي. مثلاً: که تاسې ۵۰ ګرامه د آلوګانو چپس وخورئ، په دې مانا چې ۴۰۰ کالري انرژي لاسته راوړئ.

د دې په مقابل کې که تاسې ۱ کیلومتر پلې مزل وکړئ، نتیجه به دا وي چې ۱۱۰ کیلو کالري مو مصرف کړي.

نو ښه ده، چې د آلوګانو له استعمال سره زیات احتیاط وکړئ.

له دې یادونې هدف دا دی، چې داسې خوراکونه مه کوئ، چې ستاسې د ساعتونو-ساعتونو د ورزش نتیجه په څو دقیقو کې بیرته خرابوي.

لوږه او اشتها فرق کوي!

هغوی، چې غوړي وزن کم کړي، نه باید خپله اشتها له منځه یوسي او ځان په نورو ناروغیو واړوي.

تاسې باید د لوږې او اشتها ترمنځ فرق هم هېر نه کړئ.

ځینې وږي وي باید خوراک وکړي، خو ځینې وږي نه وي او یوه خوراک ته یې اشتها راځي.

ستاسې وزن د لوږې په ختمولو نه؛ بلکې د اشتها په زیات پاللو خرابیږي.

دې ته مو پام اوسه، چې له اشتها پاریدو سره هر څه مه خورئ،احتیاط ښه شی دی.

منه بوی کړئ

څېړنو ښودلې، چې د منو بوی کول په رواني لحاظ ستاسې د مرستې سبب ګرځي.

یانې که منې د لوږې وخت کې بوی کړئ، ستاسې اشتها کموي او له زیات خوراکه مو راګرځوي.

میوه زیاته خورئ

د طب یوه معقوله دا ده: له میوې سره د لوږې جنګ ته لاړشئ.

کله چې زیات وږي وئ، تر زیات خوړو ښه ده، چې زیاته میوه وخورئ.

میوه ګټه زیاته لري، تاوان یا هیڅ نه لري، یا که ولري نو تر نورو خوړو کمه ده.

نو څومره چې کولای شئ، میوې ته تر نورو خوړو زیات لومړیتوب ورکړئ.

څو نوري لارښوونې

ـ سهار هڅه وکړئ، ي زیات پروتین واخلئ.

د چرګ هګۍ په سهارنۍ کې زیاته توصیه کیږي.

– د څو وخته ډوډۍ په وقفه کې لږ لږ خوراک ښه ده، چې وکړئ. البته مضر شیان نه، چې وزن مو زیاتوي.

– څښاک زیات وکړئ، اوبه، قهوه او چای وڅښئ. خواږه لرونکي مشروبات مه څښئ، چې تاوان لري.

– کافي خوب وکړئ. دا مو هم د زیات خوراک مخه نیسي. لږ خوب، د زیاتو خوړو سبب ګرځي.

صادق طارق

یاران ویب پاڼه

# ارزش اجتماعی اخوت ایمانی

امین الله معتصم

اخوت ایمانی یکی از مهم‌ترین ارزش‌هایی است که در نظام اجتماعی اسلام بعد از عقیده و ایمان جایگاه دوم را دارد، به این معنا که انسان مسلمان مکلف است به خاطر ادای رسالت و مسؤولیت خویش بعد از استحکام رابطهٔ خود با الله تعالی از طریق عبادات، رابطه‌اش را با مسلمانان دیگر بر اساس معیارهای اخوی مستحکم نماید. زیرا در نبود و یا ضعف یکی از این دو عنصر، انسان مسلمان نمی‌تواند نقش سازنده‌ای در اصلاح نابسامانی‌ها داشته باشد.

رابطهٔ مسلمان با مسلمان دیگر زمانی اخوت تلقی گردیده و به ارزش اجتماعی تبدیل می‌شود که دارای ویژگی‌های تعریف شده در قرآن و سنت باشد. در متون دینی ما هرگاه نامی از اخوت برده شده، به تعقیب آن به هدف و نتیجهٔ آن نیز اشاره شده است، به طور مثال در آیات ۱۰۳ تا ۱۰۷ سورهٔ مبارکهٔ آل عمران الله تعالی هدف از اخوت را تشکیل مجموعهٔ به‌هم‌پیوسته می‌خواند که هدف از یکجا شدن آنها زنده شدن پروسهٔ امر به معروف و نهی از منکر و نتیجهٔ آن کامیابی دنیا و آخرت است. و الا ارتباط و پیوندی که هدفی ایمانی را دنبال نکند و نتیجهٔ مثبتی را در پی‌نداشته باشد و یا هدف از آن محض رسیدن به مال و جاه باشد، اخوت ایمانی تلقی نمی‌گردد و اسلام برای آن ارزشی قایل نیست.

رابطهٔ اخوی در اسلام از منزلت و جایگاه بلندی برخوردار است به‌گونه‌ای که هر قدمی را که انسان مسلمان در راستای ایجاد اخوت بر می‌دارد و هر لحظه‌ای را که در اندیشهٔ تحکیم پیوند اخوی سپری می‌نماید و هر مالی را که در جهت تقویت روابط برادری هزینه می‌کند، همه و همه به عنوان بهترین عبادت در نامهٔ اعمال وی ثبت می‌گردد.

پیوند برادری در میان مسلمانان سرآغاز تمام دستاوردهایی به شمار می‌آید که امت اسلامی در سده‌های اول تاریخ اسلام آن را به جامعهٔ بشری تقدیم نمود، و حالا نیز مسؤولیت سرنوشت‌سازی که امت اسلامی آن را به عهده دارد وابسته به پیدا شدن و گسترش دامنهٔ چنین رابطه‌ای در میان فرزندان امت اسلامی است. اما در نبود پیوند اخوی میان مسلمانان، عدد زیاد آنان چیزی جز سیاهی لشکر به حساب نمی‌آید که به تعبیر رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم همانند کف روی آب در معادلات اجتماعی هیچ نقش و اثری نخواهد داشت.

اخوت ایمانی در پیوند میان دو انسان مسلمان زمانی مصداق پیدا می‌کند که هدف از ارتباط و نشست و برخاست و گفتگو، جستجوی راه‌های کسب رضای الله تعالی و کمک یکدیگر در راستای عمل به کارهای نیک و اجتناب از کارهای زشت و تقسیم کارها در میان خود باشد. چون تنها در همین صورت است که از نظر کیفی رابطهٔ محبت و دوستی روزبه‌روز عمیق‌تر می‌شود و از نظر کمی دامنهٔ اخوت در میان اطرافیان و وابستگان کسانی که با هم رابطهٔ اخوی دارند توسعه می‌یابد و به این ترتیب بر عدد کسانی که به خاطر الله با هم دوستی می‌کنند افزوده می‌گردد و با کثرت افرادی این‌چنین کارهای خوب به مرور ایام زیاد شده و اعمال زشت آهسته آهسته دامن خود را برمی‌چیند.

رضای الله تعالی که محور دوستی میان دو مسلمان است، باید برای هر دو طرف واضح و روشن باشد و هر دو بر سر اسباب و وسایل کسب رضای الله تعالی نیز اتفاق نظر داشته باشند، چه در غیر آن هر یک دیگری را نادان و غیرمخلص دانسته تمام وقت، استعداد و توانایی خود را صرف بحث و مناقشه با وی نموده فرصت کار و تلاش و فعالیت در راستای ادای رسالت و مسؤولیت را پیدا نمی‌کند. این ویژگی در روابط شاگردان پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم بسیار برجسته بود، آنان در شناخت الله و راه‌های کسب رضای پروردگار هرگز دچار اختلاف نمی‌شدند و به همین دلیل محبت و دوستی آنان بیش از مردمان هر دوره و زمانه‌ای استوارتر و محکم‌تر بود و هر یک دیگری را معاون و همکار خود در راه به دست آوردن رضای الله و کامیابی دنیا و آخرت می‌دانست و اگر احیاناً در میان شان رقابتی نیز مطرح بود فقط و فقط در این امر دیده می‌شد که هر یک از آنان می‌کوشید تا در عبادت، فداکاری، ایثار و از خودگذری پیش‌قدم باشد. رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم در میان صحابه رضی‌الله‌عنهم فرهنگی را حاکم ساخته بودند که هر یک از آنان سعی می‌کرد تا برادرش را در راستای استفادهٔ بهتر از لحظات عمر، امکانات مادی و توانایی‌های جسمی و روحی‌اش کمک کند و این عمل خود را عبادت و وسیلهٔ تقرب به الله تعالی بداند، بر عکس رقابت‌های دنیوی که فرد به جای تلاش در جهت کسب فضایل، می‌کوشد مانع پیشرفت دیگران گردد.

رابطه و پیوند اخوی به مفهومی که اسلام بر آن تأکید می‌ورزد با هیچ رابطهٔ دیگری قابل مقایسه نیست و حتی درک حقیقت آن برای کسانی که بهرهٔ از آن ندارند غیرممکن است، در ایجاد چنین رابطه‌ای انتخاب هدف و اخلاص مهم‌ترین نقش را دارند و بعد پیوند اخوی با رعایت مجموعه‌ای از آداب رشد می‌کند و توسعه می‌یابد و در غیر آن ممکن است به سردی گراییده و احیاناً به میدان رقابت‌های ناسالم و احیاناً کدورت و دشمنی نیز مبدل شود.

آدابی که می‌تواند پیوند اخوی میان دو مسلمان را تقویت بخشد:

۱- احترام متقابل

اولین و مهم‌ترین عنصری که می‌تواند رابطه میان دو انسان را قوت بخشد رعایت اصل احترام دوجانبه است، و این عنصر در رابطهٔ اخوی میان دو مسلمان بیشترین نقش و تأثیر را دارد. حقیقت این امر از آنجا سرچشمه می‌گیرد که الله تبارک و تعالی انسان را موجودی محترم آفریده و محبت احترام را در قلب او جای داده است و انسان به حکم طبیعت خود کسانی را که به او احترام می‌گذارند دوست دارد و از کسانی که به وی بی‌احترامی می‌کنند متنفر است، هرچند ممکن است احیاناً مجبوریت‌ها او را وادار به تعامل با کسی کند که حرمت او را می‌شکند، اما هرگز یک انسان سالم و عاقل نمی‌تواند محبت کسی را که به وی بی‌احترامی می‌کند در قلب خود جای دهد.

۲- رعایت اصل شورا

شورا در اسلام بعد از حکم الله تعالی جایگاه دوم را در نظام اجتماعی اسلام دارد، به این معنا که وقتی یک مسلمان می‌خواهد در مورد امری جمعی که نفع و ضرر آن تنها منحصر به خود وی نمی‌ماند، تصمیم بگیرد، باید اول به کتاب الله و سنت رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم مراجعه کند و در صورت موجودیت حکم آن قضیه در کتاب و یا سنت آن را عملی نماید، و در صورت نبود حکم مسأله در کتاب و سنت قضیه را با کسانی که در آن امر با وی شریک هستند در میان گذاشته و زمینهٔ مشارکت همهٔ آنان را به شکل واقعی مساعد سازد تا هرکس بتواند با آزادی کامل و بدون ترس و هراس، رأی و نظر خود را ارائه کند و بعد از ختم مناقشه و استماع دلایل تمام اشتراک کنندگان، مطابق رأی اکثریت فیصله به عمل آمده و همان فیصلهٔ مبنای عمل قرار گیرد. **(بقیه در صفحه ۷)**

# BRANCHES OF FAITH: KINDNESS TO PARENTS

(NAJM UK WEEKLY REMINDERS)

## BRANCHES OF FAITH: KINDNESS TO PARENTS

(NAJM UK WEEKLY REMINDERS)

### DEFINITION

Birr Al-Waalidain (Kindness to Parents) is **obligatory** upon all Muslims, even concerning non-believing parents.

Linguistically, it is derived from the verb **Barra** which points to truthfulness, righteousness, kindness and good conduct.

The Prophet (ﷺ) said:

**“الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ»**

*“The **essence of Birr** is (manifested in) **good morals** (Akhlaq) whereas sinful conduct is that which turns in your heart (making you feel uncomfortable) and you dislike that other people become aware of it.”*

Regarding parents and relatives, Birr pertains to **obeying** their orders (except in the disobedience of Allah), and fulfilling their needs and requirements. Its opposite is **‘Uquq عُقُوق’**, which equates to disrespecting and neglecting/disregarding (their) rights.

### IMPORTANCE

In the Qur’an (17:23), Allah (SWT) commands the believers to be kind with their parents **immediately after** commanding them with Tawheed (affirming his oneness).

**وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا**

*Your Lord has decreed that you should **worship none but Him**, and that you be kind to your **parents**. If either or both of them reach old age with you, say not to them as much as **“uff”**, and do **not** be **harsh** with them, but speak to them respectfully.*

Commentary on the above Verse:

When children are young, they take up all their parents’ vigour, health, effort and attention. But **children soon forget** all this and move ahead with life while neglecting them. This is the **natural** course of life. Thus parents do not need any encouragement to be kind to their children. It is the children who need to be reminded of their duty towards the generation that has become in need of tender care, after having spent most of its vitality in bringing them up.




### THE GREATEST RIGHT AFTER ALLAH

The Aayah above enjoins that after Allah’s right, **the greatest of all the human rights** is the right of parents. Even saying “Uff” which is the lowest form of expressing discomfort and annoyance is explicitly prohibited! Let alone rebuking, disobeying or disrespecting them.

The Prophet (ﷺ) said:

**“الْعَبْدَ الْمُطِيعَ لِوَالِدَيْهِ، وَالْمُطِيعَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ،فِي أَعَلَى عِلِّيِّينَ» (مسند الفردوس، الديلمي)**

*“The servant of God who is **obedient** to his parents and also obedient to the Lord of the universe is in the **highest of highs** (in paradise).”*

The **collective morality** of society should make it **incumbent** on children to be grateful and respectful to their parents and should ensure that parents are continuously served and honoured by them throughout their lives.

### EXAMPLES

Aisha RA says regarding Fatima RA (daughter of the prophet) that “If the Prophet entered her home, she would **stand** for him, take him by the hand, kiss him, and seat him in her place” (Abu Dawud).

Yet Al-Birr (kindness) is **not limited** to just kissing the forehead or hands, or even the feet of your parents. Rather, it is to obey them **immediately**, willingly and happily. It is to do what your parents want **before you are even told**. Such a child is called البـار الموفـق and is granted success in all his affairs.

### VIRTUES & BENEFITS

(1) *A companion came to the Prophet (ﷺ) and said: “O Messenger of Allah! I want to go out and fight (in Jihad) and I have come to ask your advice.” He said: “Do you have a mother?” He said: “Yes.” He said: “Then **stay with her (and obey her)**, for Paradise is beneath her feet.” (An-Nasa’i)*

(2) Our Prophet (ﷺ) also said:

**“مَـنْ سَـرَّهُ أَنْ يُبْسَـطَ لَـهُ فِـي رِزْقِـهِ وَيُنْسَـأَ لَـهُ فِـي أَثَـرِهِ فَلْيَصِـلْ رَحِمَـهُ »**

*Whoever desires an **expansion in his sustenance and age**, should keep good relations with his kith and kin (Abu Dawud)*

**O Allah! be merciful to them as they cared for us when we were children.**

# Should I Confess?

A person may sorrowfully ask: "I want to repent, but do I have to go and confess the sins I have committed? Is it a condition of repentance that I should tell the qaadi (judge) in the court about everything that I have done, and ask him to carry out the appropriate punishment on me? What is the meaning of the story I have just read about the repentance of Maa'iz, of the Ghaamidi woman and of the man who kissed a woman in the garden?"

My response to you is that the slave's direct relationship with Allaah, with no intermediaries, is one of the most important aspects of the belief in Tawheed (Divine Unity) with which Allaah is pleased. He says (interpretation of the meaning): "And when My slaves ask you (O Muhammad) concerning Me, then (answer them), I am indeed near (to them by My knowledge). I respond to the invocations of the supplicant when he calls on Me (without any mediator or intercessor)…" [al-Baqarah 2:186]. If we believe that repentance is only for Allaah, then confession is only for Allaah too. In fact, the Prophet (may Peace Be Upon Him) used to pray in his du'aa's asking for forgiveness: "Aboo'u laka bi na'matika wa aboo'u bi dhanbi (I acknowledge Your blessings and I acknowledge (i.e. confess) my sin to You)." This is a confession to Allaah.

We are not, by the grace of Allaah, like the Christians, with the priest, the chair of confession, the documents of forgiveness, etc. Indeed, Allaah says (interpretation of the meaning): "Know they not that Allaah accepts repentance from His slaves…?" [al-Tawbah 9:104], i.e., He accepts repentance from His slaves without any mediator or intercessor.

As regards the carrying out of punishments, if the deed has not come to the official attention of the imaam, ruler or qaadi, a person does not have to go to them and confess. If Allaah has covered the sins of a person, there is nothing wrong with him covering his own sins. It is sufficient for him to repent to Allaah, and the matter is between him and his Lord. One of the Names of Allaah is al-Sitteer, meaning the One Who covers or conceals (the faults of His slaves), and He likes His slaves to conceal sins too. As far as the Sahaabah such as Maa'iz, the Ghaamidi woman who committed zinaa, and the man who kissed the woman in the garden are concerned, all of them did something which they were not obliged to do, may Allaah be pleased with them, because they were so keen to purify themselves. The evidence for this is the fact that the Prophet (may Peace Be Upon Him) turned away from Maa'iz and from the Ghaamidi woman at first. When 'Umar said to the man who had kissed the woman in the garden, "Allaah covered his sin. He should have covered it himself?" the Prophet (may Peace Be Upon Him) remained silent, indicating that he concurred with these words.

So it is not necessary to go to the court and register an official confession, if Allaah has covered one's sins. Nor is it necessary to go to the imaam of a mosque and ask him to carry out the appropriate punishment, or to ask a friend to carry out the punishment of lashing inside the house, as some people imagine.

The following story will teach you how important it is to be careful of the attitude of some ignorant people towards those who repent: a man who wanted to repent went to the ignorant imaam of a mosque, confessed his sins to him and asked him what he should do. The imaam said, "Go to the court and confess your sins officially. They will carry out the appropriate punishment on you. Then we will see what to do next." The poor man saw that he would not be able to do this, so he forgot about repenting and went back to his old ways.

Here I will take the opportunity to add an important comment: knowing about the rules of Islam, and seeking them from the correct sources is a trust. Allaah says (interpretation of the meanings): "… so ask of those who know the Scripture, if you know not." [al-Nahl 16:43]

"… The Most Beneficent! Ask Him, as He is al-Khabeer (the All-Knower of everything)." [al-Furqaan 25:59]

Not every preacher is qualified to issue fataawaa (rulings or edicts). Not every imaam or muezzin, speaker or storyteller, is qualified to deliver rulings to the people. But the Muslim is responsible for knowing from where he can take rulings. This is an important matter of religion. The Prophet (may Peace Be Upon Him) feared what might befall his ummah at the hands of misguided imaams. One of the salaf (early generation of Islam) said: "Knowledge is religion, so pay attention to who it is you are taking your religion from." Beware of these pitfalls, and only consult trustworthy scholars when you are in doubt about an issue. And Allaah is the source of help.

## بقیه مضمون
## ازش اجتماعی اخوت ایمانی

شورا در واقع یکی از مصداق‌های عملی احترام به شخصیت و آراء برادران ایمانی است، البته به این شرط که فضای اخوی به‌گونه‌ای حاکم باشد که هر فرد بتواند به راحتی کامل رأی و نظر خود را ابراز نماید. اشاره به این نکته به خاطری ضروری است که احیاناً برخی از شخصیت‌های دیکتاتور به ظاهر امر نشست‌هایی را به عنوان مجلس شورا دایر می‌کنند، ولی فضا را به‌گونه‌ای مهندسی می‌نمایند که غیر از رأی و نظر خودشان چیز دیگری از آن بیرون نمی‌آید و طبعاً چنین حالتی نه تنها که به استحکام پایه‌های اخوت نمی‌انجامد، بلکه هیچ نفعی را برای هیچ کس در پی ندارد، و از جانبی این کار بازی با احکام الهی نیز به حساب می‌آید چون الله تعالی ما را به شورا امر نموده است و شورا همان است که موضوع بدون مهندسی و با صفای کامل مطرح گردد و هر فرد رأی خود را با اخلاص کامل و با آزادی تام ارائه نماید و در نهایت به رأی اکثریت فیصله شود.

۳- چشم‌پوشی

چشم‌پوشی از عیوب انسان‌ها مبتنی بر این حقیقت است که انسان موجودی ضعیف و خطاکار است و از این امر هیچ انسانی مستثنا شده نمی‌تواند، و مفهوم این سخن آن است که شما با هر کس رابطه بر قرار کنید، از آن‌جایی که انسان است در جریان تعامل با شما دچار خطا و لغزش می‌شود، همان‌گونه که شما نیز انسانید و در تعامل با وی خطا و اشتباه می‌کنید، و برادر شما به حیث یک انسان عیب‌ها و نقطه ضعف‌هایی نیز دارد، همان‌طور که شما هم از عیوب و نقطه ضعف‌هایی رنج می‌برید. در این مورد پیش روی انسان دو راه بیشتر قرار ندارد، سرزنش و انتقام‌جویی، یا گذشت و چشم‌پوشی. در صورتی که بنا را بر سرزنش و انتقام بگذاریم طبیعی است که دوستی و برادری ادامه پیدا نمی‌کند، بناءً یگانه راه استمرار روابط و برادری چشم‌پوشی و گذشت است.

۴- عذرخواهی و عذرپذیری

ظروف و شرایط زندگی انسان‌ها به تبع وابستگی‌های خانوادگی، حالات روانی، موقعیت اجتماعی، وظیفة و شغل و امثال اینها از فردی تا فرد دیگر متفاوت است؛ به همین دلیل در روابط اخوی احیاناً شخص کاری را انجام می‌دهد که به مذاق برادرش خوش نمی‌خورد، در چنین حالتی اگر فرد توجیهی منطقی و معقول برای کار خویش دارد باید آن را با برادرش در میان بگذارد و اگر توجیهی ندارد از وی معذرت بخواهد. به همین صورت باید هر یک از ما نسبت به برادران خویش نیز چنین تصوری داشته باشیم و اگر احیاناً از وی خطا و اشتباهی را می‌بینیم و یا احساس می‌کنیم کاری نادرست را انجام داده است، تا جایی که ممکن است او را معذور بدانیم. البته این مسأله هرگز به معنای چشم فروبستن از خطاها نیست و به بهانهٔ عذرخواهی نباید اجازه دهیم اشتباهات برادر ما روزبه‌روز زیاد شده برود.

# what Anthony saw in Islam and British society which caused him to accept Islam.

Lanky, blonde, green-eyed, middle aged Abdur-Raheem Greene appears to be a character straight out of a Hollywood movie Ben Hur. The Tanzania-born Britisher embraced Islam in 1988 and has been a dawah practitioner [preacher] in Britain since then. He wears a look that instantly evokes comparison with the popular portrayal of the Prophet Jesus [may the mercy and blessings of God be upon him] in the imagery of Christian Europe. Greene's tryst with Islam took place in Egypt where he mostly spent his vacations. He lectured in Bangalore in early October on "God's Final Revelation." He spoke to the Islamic Voice while in the city.

Your background

I was born to British parents in Darussalam in Tanzania in 1964. My father Gavin Green was a colonial administrator in the still existent British empire. He later joined Barclays Bank in 1976 and was sent to Egypt to set up Egyptian Barclays Bank. I was educated at famous Roman Catholic Monastic School called Ampleforth College and went on to study history in the London University. However, I left my education unfinished. Currently, I am working with an Islamic media company based in England and engage myself in dawah activities [preaching] including lectures on Islam in London's famous Hyde Park.

What kept you from obtaining a degree?

I grew totally disillusioned with the British educational system. It was thoroughly Eurocentric and projected world history in a way that suggested that the civilization attained its full glory and apogee in Europe. Having lived in Egypt and seen some of the majestic ruins which only archaeologists have access to, I found the West's interpretation of history totally fallacious. I began a private study of histories of other peoples of the world, various religious scriptures and philosophy. I was practicing Buddhism for nearly three years though never formally embraced it.

Study of the Holy Qur'an immediately attracted me. Its message had a magical appeal and I grew convinced that it was a divine revelation. I believe only Allah guided me, none else. I don't know what made me deserve Islam.

But anything specific that could have appealed to you?

I was dissatisfied with Christianity from the age of eight. The concept that was taught to us through rhymes such as Hail Mary! Was not at all acceptable to me. While on one hand the Christians described God to be eternal and infinite they felt no compunctions in ascribing birth of God from the womb of Mary. This made me think that Mary must be greater than God.

Secondly, the Christians' concept of trinity was puzzlesome for me. The similitude like Canadian Maple leaf being one despite three sections appeared utterly inapplicable.

The crunch came when an Egyptian started questioning me. Despite being confused about the Christian belief I was trying to be dogmatic as most white, middle-class, English Christians do. I was flummoxed when he led me to accept that the God died on the crucifix, thus laying bare the hollowness of the Christian claims of eternity and infinity of God. I now came to realize that I was believing in as absurd a concept as two plus two is equal to five all through my adolescent years.

The West's prelaid, programmed life intensely repelled me. I began to question if a person has to live a life merely to get strait-jacketed in a rigorous schedule. I found Europeans struggling a lot to enjoy life. They had no higher purpose in life.

The West's capacity to brainwash its people became plain to me when I discussed the Palestine issue with Egyptians and Palestinians. Several myths-historical, political, economic - were fabricated by the Zionists and propagated unchallenged by the Western media. How could a land vacated by Jews 2000 years earlier be their homeland? I also came to know that existing Jewish people were actually Slavs, not Semites and that Palestinian land was always a green orchard. Israel fabricated the myth of "magical transformation of desert into greenland."

The American double-speak and hypocrisy began to sink in as I studied the US role in planting and sustaining despotic rulers in Latin America while punishing the Soviet Bloc.

What contrast have you found between people's lives in Egypt and the UK?

Egyptians were poor, suffered hardships, yet were happy. They left everything in the hands of Allah and forget their miseries when they return home. Prayers help them place their worries before their God. I noticed humility as well as intimacy in Islamic prayers.

But in England I found people shallow, materialistic. They try to be happy but happiness is superficial. Their prayers combined songs, dances, clapping but no humility, nor intimacy with God.

I realized that popular opinion in the West was totally hostage to the Zionist-controlled media. The question of Palestine was one among these. My conversation with Palestinians revealed as to how the West had believed in myths about Israel. First among them was that the Jews had the right to return to their original homeland in Israel. Secondly they conveniently described themselves Semitic while the fact was that most Jews of the world were Slavs who had later converted to Judaism. Thirdly Israel's economic miracle was theorized to create the economic and scientific myth.

The fact was that I never got to know the Palestinian side of the issue. I got convinced that the people of the West were brainwashed by the media. I found that the US was trying every trick to punish nations indulging in small violations of human rights in the third world but was itself sending death squads into Latin American nations to liquidate their leaders who refused to toe the US line. Such hypocrisy is never criticized by the US media.

How do you find life as a Muslim in the UK?

The Western psyche emphasizes one's individuality. This is at variance with Islam. Any sincere Muslim feels disturbed. He or she is constantly bombarded by sex and sexuality. Most girls lose virginity by 13 and it is normal for girls to have three to four boyfriends.

The dilemma before Muslims in the West is as to how to integrate with a society so steeped in sex, drugs, drinks and sexual intimacy. And if no integration, then how to save themselves from ghettoization.

Excerpts from an Interview by Islamic Voice, Volume 11-11 No: 130, November 1997

## فعالیتها و خدمات ما درین ماه




media@hayatfoundation.org.uk

hayatfoundationuk

+44 7588 811824 - +44 7508 848893

www.hayatfoundation.org.uk

تماس با ما

